مطبوعاتي خبرتيا

په کندوزکي دملکي خلګووژل دبشريت پر ضد اودنړيوالوبشردوستانه قوانينو څخه ښکاره سرغړونه د ه

کابل ، د۱۳۸۹ کال ل کال دکب ۲۴ د ۲۰۱۱ زکال دمارچ ۱۵

د۱۳۸۹ ل کال دکب پر ۲۴ دکند زښار ديوې ځان وژونکې پيښي شا هد وو چي دملي اردودجلب اوجذب په مرکزکي تر سره شوه اوپه هغه کي ډيرملکي وګړی مړه اوټپيان شول .

دافغانستان دبشردحقونوخپلواک کميسيون ددي خبرتيا په خپرولوسره دقربانيانو کورنيوته خپله خواخوږي وړاند ي کوي اودپاك خداي (ج ) څخه وټپيانوته ژرتر ژره سلا متی غواړي .

ددغو ځان وژونکوبريدونو په لړ کي چي دملي اردود جلب اوجذب په مرکز کي تر سره شوه دکميسيون دوروستي مالوماتوپر بنسټ ۳۶ کسه وژل شوي او ۳۰ کسه ټپيان شوي دي چي دهغوي ډيره برخه ملکي کسان اوماشومان دی .
برسيره پر دي چي دغه ډول بريدونه داسلام دمقدس دين اونړيوالوقوانينو پرخلاف دی ددې بريد ډير قربانيان ملکي کسان اوماشومان دی .
دافغانستان دبشرحقونو خپلواك کميسيون په ښارونو اوولسواليوکی دملکي کسانودتوليدوپرسيموباندي بريدونه په کلکه باندي غندي او هغه دتوجيه وړنه ګڼي اوددولت دوسله والوضد ډلوڅخه په ټينګه باندي غواړي چي دملکی کسانو دتوليدو سيمي په نښه نکړي .
له هغه ځايه چي بورته ځان وژونکی بريد چي دملي اردودجلب اوجذب په مرکز کي تر سره شوه دهغه ډيرقربانيان ماشومان اوملك کسان دی چي په دې توګه نړيوال بشردوستانه قوانين (دژينوکنوانسيون ) ترپښولاندي شوی دی .
دافغانستان دبشر حقونوخپلواك کميسيون په دې اړه انديښمن دی اود افغانستان داسلامی جمهوری دولت اوملګروملتونوڅخه غوښتنه کوي چي دپورته پيښي جنايت کونکی محکمې ته راوبولی او په دې لړ کي دهيڅ ډول مرستوڅخه ډډ ه ونکړي .

دافغانستان دبشر دحقونو خپلواك کميسيون
افغانستان کابل ،دريمه کارته ، سور پل
تيلفون : ۰۲۰۲۵۰۰۶۷۶
فکس : ۰۲۰۲۵۰۰۶۷۷
ايميل : aihrc@aihrc.org.af
سايټ : www.aihrc.org.af